Food and Agriculture Organization of the United Nations

MAIL

AREU

# مطبوعاتی اعلامیه

## د دوامداری پرمختیایی موخو په اړوند د کرنې او طبیعی زیرمو د مدیریت ورکشاپ

د ۱۳۹۷زیږدیز کال د وری د میاشتی۱۹: د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره د ملګروملتونو د خوراک او کرنې سازمان او د افغانستان داسلامی جمهوری د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت سره په همغږی په ۷ سیمو کی د مرکزی او ولایتی حکومتی چارواکو لپاره د دوامداری پرمختیایي موخو(SDGs) سره د پیژندګلوی او په دی اړه د شویو کارونو د شننو په موخه ورکشاپونه وړاندی کوي.

د قندهار ولایت د والی مرستیال محترم حاجی آغا لالی دستګیر د هغه ورکشاپ ګډونکونکو ته چی په قندهار کی د وری د میاشتی له ۱۸ نه تر ۱۹ نیټی پوری جوړ شوی وه په خپل وینا کی وویل: "د بزګرانو غوښتنی او اړتیا وو ته باید په جدی توګه پاملرنه وشی څکه دا د دوامدارۍ پرمختیا لپاره ډیر ارزښت لری."

هغه زیاته کړه چی هرډول مرسته د کرنې له سکتور سره د کار د پیدا کولو سره ډیره مرسته کوی او د افغانانو ژوند په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول له کرنې سره تړاو لری.

د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری مشره ډاکټر اورځلا نعمت وایی: " د دوامداری پراختیا د موخو د پلی کولو لپاره د افغانانو فعاله ونډه اخیستنه په هره کچه اړینه ده. که حکومت وی اویا ملګری ملتونه، پوهان، د مدنی ټولنی غړی، او یا هم خصوصی سکتور، مونږ ټول مهمه دنده لرو چی د افغانستان د پرمختیا په کارونو کی فعاله ونډه واخلو. دا ورکشاپونه خورا ارزښت لری ترڅو دا یقینی کړی چی نه یواځی په کابل کی ګډونکونکې په دی کارونو کی برخه اخلی، بلکه پدي کار کې د افغانستان په ټولو برخو کې اړونده ادار ی هم برخه اخلي."

د دی ورکشاپونه اصلی موخه د دوامدارۍ پرمختیایې موخو د شاخصونو په اړه د وړتیا لوړول او دخنډونو پیژندل دی. دغه پروژه به د بیلابیلو افغانی برخوالو د دندو، مسؤلیتونو او ژمنو شننه وکړی او دا به مالومه کړی چی څنګه باید د هغوی د کړنی اندازه ولګول شی البته د دوامدارۍ پرمختیا د موخو د شاخصونو پر بنسټ چی د کرنې او د خوړو د خوندیتوب سره تړاو لری.

د ملګروملتونو د خوراک او کرنې سازمان او د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره ، د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت او د نورو وزارتونو په مرسته زیار باسی چی د دوامدارۍ پرمختیا موخې په کلیو کی د پالیسی د دادخواهی، د معلوماتو د لوړولو او د ارقامو د څارنې او جوړیدو له لیاری پلی کړی.

لومړی ورکشاپ په هرات او دوهم ورکشاپ په قندهار کی ترسره شو او ورته ورکشاپونه په نورو ولایتونو کی هم په راتلونکی کی هم ترسره شی.

د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره په کابل کی میشته یوه خپلواکه څیړنیزه اداره ده چی په ۲۰۰۲زیږدیز کال د نړیوالې ټولنی په مرسته په افغانستان کی جوړه شوی ده. د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره خپلو موخو ته د رسیدو په خاطر له پالیسۍ جوړونکو، مدنی ټولنی، پوهانو او څیړونکو، سره کار کوی ترڅو هغوی د دی اداری د کتابتون او

ځیرنیزو خپرونی ښخه ګټه پورته کړی، او د هغوی د ځیرنو وړتیا لوړه شی او د شننو او آزادو خبرواترو لپاره زمینه برابره شی.

د لازیاتو معلوماتو لپاره کولای شي په دی لاندی شمیره اړیکه ونیسئ:

۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸
۰۷۶۶۳۰۱۷۵
۰۷۰۰۷۲۲۹۰۹